د افغانستان اسلامي جمهوري دولت
د ملي امنیت لوی ریاست

دولت جمهوری اسلامی افغانستان
ریاست عمومی امنیت ملی

Islamic republic of Afghanistan
National Directorate of Security

د خوست ملي امنیت ریاست

ریاست امنیت ملی خوست
۳۵ صادره ع
مدیریت دفتر ۱۴۰۰/۱/۹

محرمیت درجه: درجه وټاکئ
بیړنی درجه: ډېر بیړنی
نیټه:

د صادرې ګڼه ( )

د خوست ولایت محترم مقام ته!

د خوست ولایت انکشاف دهات رئیس عاشق الله اخلاص یار د لوګر ولایت څخه خوست ولایت ته په 1398/11/4 نیټه خدمتي را تبدیل شوی چې د شپږو میاشتو وروسته یې بیرته د خدمتي موده د 1399/04/03 نیټې پورې تمدید او یو کال ته وغزیده داچې د یو کال څخه زیات خدمتی تبدیلی د وزیر صلاحیت څخه پورته ده باید رئیس صاحب جمهور تبدیلي وکړي اوس مهال نوموړی رئیس هیڅ ډول قانونیت د خوست ولایت اړونده ریاست کې نه لري نه هم کوم مکتوب شته چې د هغې په اساس ذکرشوی رئیس دلته پاتې دی په شفاهي ډول دلته د ریاست اړوند کارونه ترسره کوي.

بل داچې ذکرشوی رئیس په لوګر ولایت کې د اداري فساد دوسیه هم لري او یوځل په لوګر ولایت کې د دولتي څواکونو له لورې نیول شوی هم دی او س مهال په ضمانت خوشي کړل شوی دی دوسیه یې د یو کال څخه زیات وخت کیږي خو تراوسه نهایي شوي نده د ملکي خدماتو قانون په اساس که چیرته یو څوک په اداري فساد تورن شي او د یو کال په جریان کې یې دوسیه نهایي نشي نو بست یې اعلان ته سپارل کیږي.

موضوع د خبرتیا او ورستیو کړنو په موخه قدرمن مقام ته تقدیم شوه.

په درښت
د خوست ملي امنیت رییس